**بسم الله الرحمن الرحيم**

## پوښتنې ته ځواب

## د اخرت شهید څوک دی او څوک به د شهید پور ادا کوي؟

**(ژباړه)**

اسما فوزي محمد ته!

پوښتنه:

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته، د قدر وړ شېخ صاحب!

د اسلامي شخصیه کتاب دویم جلد، ۱٦٥ مخ د «شهید» په موضوع کې... د اخرت د شهید په تړاو داسې راغلي: «په اسلام کې شهادت پنځه معتبرې درجې لري، چې یو مسلمان ترې برخمن کېدای شی او هغه عبارت دي له المطعون څخه، یعنې هغه څوک چې د طاعون (وبا) له امله مړ شي او هغه ناروغي چې د طاعون په نامه ونومول شي. المبطون بیا هغه کس دی چې د نس ناستې د ناروغۍ له امله مړ شي. الغریق هغه څوک چې په اوبو کې د ډوبېدو له امله مړ شي. الهدم هغه چاته وایي چې ودانۍ پرې راونړېږي او مړ شي، یعنې تر خاورو خځلو لاندې شي. شهید هغه څوک دی چې د جګړې له ډګر څخه بهر د الله سبحانه وتعالی د کلام د لوړولو (لإعلاء کلمة الله)په لار کې خپل ژوند له لاسه ورکړي.»

په داسې حال کې چې په نورو احادیثو کې راغلي چې شهیدان یوازې هغه کسان دي، چې د الله سبحانه تعالی په لار کې د جګړې پر مهال په دغو حالتونو سره په شهادت رسېدلي وي... لکه په لاندې حدیث کې چې راغلي. له عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«خَمْسٌ مَنْ قُبِضَ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ فَهُوَ شَهِيدٌ: الْمَقْتُولُ فِي سَبِيلِ اللَّه شَهِيدٌ، وَالْغَرِقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ فِي سَبِيلِ اللَّه شَهِيدٌ، وَالْمَطْعُونُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالنُّفَسَاءُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ»**

(صحیح)

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې له دغو پنځو شیانو څخه د یوه له امله مړ شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې ووژل شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د ګېډې د ناروغۍ له امله مړ شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د طاعون ناروغۍ له امله مړ شي، شهید دی. هغه ښځه چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د زېږون پر مهال مړه شي، شهیده ده.*

پوښتنه: ایا د دواړو حدیثونو ترمنځ کوم ټکر یا تړاو شته؟ په ډېر درنښت هیله کوم چې یاده موضوع راته روښانه کړئ.

دویمه پوښتنه: د شهید د موضوع په اړه په ورته سیاق کې بل روایت هم شته. له عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ»**

***ژباړه:*** *له پور پرته د شهید ټول ګناهونه بخښل کېږي.*

پوښتنه دا ده: که یو څوک په ژوند کې نه وي توانیدلی، چې خپل پور ادا کړي... څوک باید د نوموړي پور د هغه تر شهادت وروسته ادا کړي؟ مخکې له مخکې درڅخه مننه کوم.

ځواب:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته.

لومړی: د شهیدانو په تړاو:

۱. مسلم له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړی، چې نبي کریم صلی الله علیه وفرمایل:

**«بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ وَقَالَ الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»**

***ژباړه:*** *که چېرې یو سړی له لارې څخه یو اغزی لېرې کړي، الله سبحانه وتعالی به له ده څخه خوښ شي او دی به وبښي. هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شهیدان پنځه دي؛ په خنجر وهل شوی کس، هغه څوک چې د ګېډې ناروغي ولري او مړ شي، هغه کس چې په اوبو کې ډوب شي، هغه څوک چې د نړېدلې ودانۍ تر خځلو لاندې شي او بل هغه کس چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې شهید شي.*

۲. له عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«خَمْسٌ مَنْ قُبِضَ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ فَهُوَ شَهِيدٌ: الْمَقْتُولُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْغَرِيقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْمَطْعُونُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالنُّفَسَاءُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ»**

(دا حدیث نسایي او طبراني روایت کړی دی)

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې له دغو پنځو شیانو څخه د یوه له امله مړ شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې ووژل شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د ګېډې د ناروغۍ له امله مړ شي، شهید دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د طاعون ناروغۍ له امله مړ شي، شهید دی. هغه ښځه چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د زېږون پر مهال مړه شي، شهیده ده.*

۳. په دې کې کوم ټکر نشته، ځکه د مسلم حدیث کې راځي:

**«الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ»**

***ژباړه:*** *په خنجر وهل شوی کس، هغه څوک چې د ګېډې ناروغي ولري، په اوبو کې غرق شوی وي او هغه څوک چې په نړېدلې ودانۍ کې مړ شي.*

پورته حدیث مطلق دی، خو په وروستي حدیث کې راځي:

**«وَالْغَرِيقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ، وَالْمَطْعُونُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ شَهِيدٌ»**

***ژباړه:*** *هغه کس چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې اوبو ډوب کړی وي، شهید دی؛ هغه چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د ګېډې په ناروغۍ مړ شوی وي، شهید دی؛ هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د طاعون ناروغۍ له امله مړ شوی وي، شهید دی؛ هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د خنجر د زخم له امله مړ شوی وي، شهید دی.*

دغه حدیث مقید دی او د قید کلیمه یې «**فِي سَبِيلِ اللَّهِ**» ده. نو د دغو دواړو حدیثونو تر منځ جمع په دې ډول کیږي، چې مطلق په مقید باندې حمل کېږي. پر دې اساس دغه ټول کسان په هغه صورت کې شهیدان دي، چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې مړه شوي وي. نو "د الله سبحانه وتعالی په لار کې" د لفظ معنی په قرینې پورې تړاو لري. په دې ډول چې که چېرې «د الله په لار کې» لفظ د نفقې یا جهاد له قرینې سره یو ځای راشي، لکه «څوک چې د الله په لار کې نفقه ورکوي» یا «څوک چې د الله په لار کې جهاد کوي» نو معنی یې داسې کیږي چې دوی د کلیمې د لوړولو لپاره د الله سبحانه وتعالی په لار کې جهاد کوي. په صحیح بخاري کې راغلي چې ابو موسی رضی الله عنه وایي، چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم! هغه څوک چې د غنیمت لپاره جګړه کوي، هغه څوک چې د نامه لپاره جګړه کوي او هغه څوک چې د مقام لپاره جګړه کوي؛ په دوی کې کوم یو د الله په لار کې دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ:

**«مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»**

***ژباړه:*** *هغه کس د الله سبحانه وتعالی په لار کې دی، چې د کلمة الله د لوړوالي لپاره جګړه کوي....*

خو که چېرې (د الله په لار کې) لفظ پرته له کومې قرينې څخه بيان شي، نو معنا يې به همدغه لفظ پورې محدوديږي او د الله سبحانه وتعالی پر اطاعت او هغه ته په نږدې کېدو دلالت کوي. که يو څوک مومن وي، د الله سبحانه وتعالی اطاعت کوي او په حديث کې د ياد شويو ډولونو له امله مړ شي، هغه د اخرت شهيد دی. هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې په جګړه کې وفات شي، هغه د دنيا او اخرت شهيد دی. يعنې د دغو حديثونو موخه داسې ده، چې که چېري د ګېډې ناروغ په داسې حال کې ومري چې د الله سبحانه تعالي اطاعت کوي يا يو څوک د طاعون او ډوبېدو له امله د الله سبحانه تعالی د اطاعت پرمهال ومري... نو دوی شهيدان دي او که دګېډې ناروغ او د طاعون ناروغ په داسې حال کې ومري چې د الله سبحانه تعالی اطاعت يې نه وي کړی، نو دا حديث پر دوی نه تطبيقېږي.

دويم: ستا د پوښتنې په اړه چې د يو شهيد پور به څوک ادا کوي. که يو څوک په ژوند کې نه وي توانيدلی چې خپل پور ادا کړي، نو د نوموړي وارثان به يې پور ادا کوي. که يې وارثانو د پور د ادا کولو توان ونه لري، نو دولت به يې پور ادا کوي. لکه څنګه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دغه حديث شريف کې يادونه کړې ده:

**«أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ، مَنْ تَرَكَ مَالاً فَلأَهْلِهِ، وَمَنْ تَرَكَ دَيْناً أَوْ ضَيَاعاً فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ»**

(مسلم روايت کړی دی)

***ژباړه:*** *زه د مومن په چارو کې د مسووليت له پلوه د هغه په پرتله ډېر مسوول يم. که له چا څخه شتمني پاتې کېږي هغه يې وارثانو ته رسېږي او که پر ده باندې پور وي او صغيران اولادونه ترې پاتې وي، نو مسووليت يې زما پر غاړه دی.*

همدا راز د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په هغه حديث شريف کې، چې ابو داود له جابر رضی الله عنه روايت کړی، وايي:

**«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَا يُصَلِّي عَلَى رَجُلٍ مَاتَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ، فَأُتِيَ بِمَيِّتٍ فَقَالَ: أَعَلَيْهِ دَيْنٌ؟ قَالُوا: نَعَمْ دِينَارَانِ. قَالَ: صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ. فَقَالَ أَبُو قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيُّ: هُمَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ. فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ»**

***ژباړه:*** *نبي کريم صلی الله عليه وسلم د پوروړي د جنازې لمونځ نه ادا کاوه. يو مړی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضور ته راوړل شو، نو ده صلی الله عليه وسلم وپوښتل: ايا د ده پر غاړه پور شته؟ دوی وويل: هو، دی*

*دوه ديناره پوروړی دی. ويې فرمايل: پر خپل ملګري مو د جنازې لمونځ وکړئ. ابوقتاده رضی الله عنه وويل: اې د الله رسوله صلی الله عليه وسلم! زه يې پور ادا کوم. وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه د جنازې لمونځ ادا کړ. کله چې پر رسول صلی الله عليه وسلم باندې الله سبحانه وتعالی پراخې راوسته او شتمن شو، نو ويې فرمايل: زه د مومن په چارو کې د مسووليت له پلوه تر هغه ډېر مسوول يم. که څوک پور تر شا پرېږدي، زه به يې ادا کوم او که څوک شتمني تر شا پرېږدي، شتمني يې بيا د وارثينو ده.*

په دې هيله چې دغه ځواب به د دواړو پوښتنو لپاره کافي وي او الله سبحانه وتعالی ستر عالم او حکيم ذات دی.

**ستاسې ورور، عطا بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۱ هـ.ق د جمادي الثاني ۲۹ مه**

**د ۲۰۲۰ م د جنوري ۲۴ مه**

**ژباړن: صديق احمدزی**